مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۱۹/۰۶/۲۷

# د پښتنو پر وړاندې د انګرېز

## هنري والټر بیلیو ناوړه څرګندونې

د انګرېز هنري والټر بیلیو دوه کتابونو(د افغانستان د اتنوګرافی په باب یوه پلټنه) چې مرحوم کاندید اکاډمیسین محمد انور نومیالي ژباړلی او بل کتابګوټی(رساله) (نژادهای افغانستان) چې په دري ژبه باندې د سهیل سبزواري له خوا ژباړل شوی دی، زما له پاره یې لوستل خورا سټري کوونکي وو، ځکه چې مالومات یې تر ډېره ځایه په ګمان (حدس) سپکو سپورو، کنځلو او غورو پرزو باندې ولاړ دي.

د نوموړو کتابونو لیکوال د افغان ولس پر وړاندې یو کینه کښ او غچ اخیستونکی انګرېز دی چې د انګرېزانو په پوځ کې یې د جراح ډاکټر، سیاسي کارکوونکي او جاسوس په توګه چارې ترسره کړي دي، ډاکټر بیلیو د هغو وژل شویو او ټپي شویو انګرېزي پوځیانو مري او ټپیان لیدلي دي چې د افغانانو له خوا وژل شوي او ژوبل شوي وو چې له امله یې له دغه جراح ډاکټر څخه د پښتون اتل ولس پر وړاندې یو بې وسه قصاب جوړ شوی ؤ، بیلیو چې له افغانانو څخه یې د خپلو ماتو کوډو غچ په مخامخ جګړو کې نه شو اخیستلی نو د افغانانو، په ځانګړي توګه د پښتنو د اصل او نسب د ورکولو او ګډوډولو هڅه کړې ده چې له نېکه مرغه نوموړی په خپل دغه ناوړه موخه کې بریالی شوی نه دی.

هـ ، و، بیلیو د پښتنو قومونه د غېرو پښتنو قومونو لکه د هندوانو راجپوت، جټ، یونانیانو، عربو، اسرایلو او نورو د قومي، مذهبي، مسلکي، ژبني او سیمو نومونو د ورته والي (شبهات) له امله ترلي او بللي دي، په داسې حال کې چې یوازې د نومونو د ورته والي له امله یو قوم له بل قوم سره د خپلوی ریښې نه شي درلودلی، چې یوه ښه بېلګه یې زموږ د پښتنو دوه بېلابېل قومونه چې په یوه نوم (وزیرو) باندې یادېږي جلا، جلا قومونه دي، چې یو یې د سپین غره مخ په جنوب تر ژوب پورې پراته دي او بل یې د ننګرهار د سپین غره په شمال کې اوسیږي.

خو له بده مرغه چې بیلیو انګرېز د پښتنو قومونه د توکم پیژندنې د علم پر خلاف لکه چې وړاندې وویل شول د نومونو د ورته والي له کبله په نورو قومونو پورې ترلي دي چې په دې هکله د نوموړي انګرېز له لیکنو څخه یوه بېلګه وړاندې کیږي:«چنین است طوایف ترک چغتائی و منگول از قبیل منگل، جاجی، جدران، خیتای و غیره که در حوالی پیوار و سرآبه های دریای کرم مسکون بوده و به هنگام هجوم چنگیز و تیمور (تاخت و تاز جهانی تاتار در جریان قرون سیزدهم و پانزدهم) باین موقعیت ها آورده شدند.» (نژادهای افغانستان ۸۰مخ)

بیلیو په خپل کتاب (د افغانستان د اتنوګرافی په باب یوه لنډه پلټنه، ۲۷۰مخ) کې همدا د منګلو قوم د سلطان علاءالدین خوارزمشاه زوی جلال الدین منګلي[سم یې جلال الدین مینکبرني دی] په د هزاره په یوه قبیله پورې هم نښلوي.

نوموړي انګرېز بې له دې چې د لویې پکتیا قومونو فیزیکي جوړښتونه په نظر کې ونیسي یوازې یې د نوم د ورته والي پر بنسټ مغل او ترکان بللي دي د منګلو قوم د مغلو د منګول له نسل څخه بولي او د ځدرانو او خاځیو قومونه د جغتای مغل له نسب څخه ګڼي او په ځینو برخو کې یې د منګلو قوم د بلوڅو له مېنګل قبیلې سره یو بولي.

بیلیو چې د پښتنو پر وړاندې له کینې ډک زړه درلود په خپل اثر نژادهای افغانستان کې افغانان وحشي، ټيټ، ناځوانه، غداران اشغالګر او په نړۍ کې چې څومره بد او ناوړه نومونه موندل کیږي، پښتانه یې پرې نومولي دي. تر دې چې د لوی احمدشاه بابا د امپراتورۍ رامنځ ته کول یې یوه تصادفي پیښه بللې ده او د یاد اثر ژباړن چې د انګرېز بیلیو په شان یو کینه کښ متعصب افغانستانی(!) دی، لوی او نابغه احمدشاه بابا یې احمدخان ملتاني بللی دی، سبزواري د انګرېز په پله تللی او افغانان یې اشغالګر او ... بللي دی، کیدای شي چې ژباړن هم خپله غداري د پښتنو پر وړاندې په خپله ژباړه کې ترسره کړي وي، لکه چې متل دی: (خه ژرنده ګنده او خه داني ګنده) نو ځکه خو یې د بیلیو له کتاب څخه د سپکو سپورو او کنځلو یوه ټولګه جوړه کړې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د دغو کتابونو د بې ارزښتی او خامی په اړه لکه چي بيليو په خپله وايي:« لاکن د بحث او څېړلو د پاره زما وړانديز چنداني ونه منل شو او د هغي محترمي ټولني د مدير چي د شرقي مطالعاتو د تشويق د پاره جوړه شوي وه، داسي کلک مخالفت يې راوپاراوه چي نور نو ما په خپله خوښه د دي موضوع په باب خپل يادښتونه له خپلي کارپوهی سره يو ځای چي د دغه ملک او د هغه د ولسونو سره مي د يوه اوږده شناخت په موده کي لاس ته راوړي وو، يوې بلي ډېرې مناسبي موقع ته پرېښودل...» (د افغانستان د اتنوګرافی په باب يوه پلټنه: د کانديد اکاډميسين محمد انور نوميالي پښتو ژباړه، ۱۷۹- ۱۸۰ مخونه)
بل ځای ليکي:«من از نواقص و ناکاملی اين اثر کاملاً آگاه ميباشم؛ اما بخاطر اينکه حوادث در اين منطقه بسرعت در حال انکشاف ميباشد، لذا لازم ميدانم تا هر چه سريعتر در اختيار اشخاص متفکر قرار گيرد.  باين ملحوظ ترجيح ميدهم اين اثر بشکل ناپختهٔ آن نشرگردد... .( نژادهای افغانستان: د سهيل سبزواري دري ژباړه، ۶ مخ)
له بلي خوا مرحوم علامه رشاد د بيليو پر کتاب (د افغانستان د اتنوګرافی په باب يوه پلټنه) باندي عالمانه کره کتنه کړې ده او په ترڅ کې يې څرګنده کړې ده چي بيليو په دې کار سره غواړي پښتانه قومونه سره ووېشي...
بيليو لاندي کتابونه هم ليکلي دي:

- د پښتو ژبې ګرامر.
- د افغانستان سياسي پلاوي ژورنال.
- د يوسفزيو په اړه عمومي ګزارش.
- افغانستان او افغانان.
- د افغانستان توکمونه.
- د پښتو يا پختو ژبې ډکشنري.
- د افغانستان د اتنوګرافی په باب يوه پلټنه.
- کشمير او کاشغر.
- له اندوس څخه تر تايګريس پوري.

له پورته يادو شويو کتابونو څخه ما يوازې دوه کتابونه لوستلي دي او داسي ښکاري چي د نوموړي ليکوال نور کتابونه به هم بې ګټي وي، داسي چي بيليو د پښتو ژبې په اړه ښه مالومات نه درلودل نو د ده د پښتو ژبې ګرامر او د نورو کتابونو مالومات به سم نه وي، بيليو د (نژادهای افغانستان) کتاب په ۸۷ مخ کي داسي ليکي چي د ده ناپوهي څرګندوي:«کلمهٔ خيل عربی بوده و نشان دهندهٔ يک "گروه"بخصوص اسپ، "کمپنی"، "حزب" وغيره است. پسوند زی پارسی بوده.» په داسي حال کي چي خېل او زي دواړه پښتو کلمي دي او د (خېل) ريښه آريائي کلمه ده چي له (کولا) څخه اخيستل شوي ده چي بيا ورو،ورو په (کهول،کول) او نورو بدل شوی او وروسته (خېل) شوی دی.
سره له دې چي دغه کتابونه مي د زړه پر زور ولوستل خو بيا هم ځيني مالومات لکه د افغان، پټان، پښتون نومونو په اړه لږ شمېر ګټوري څرګندوني هم لري او د لوی افغانستان ختيځې پولې او د يو شمېر پښتنو قومونو د استوګنو د سيمو په هکله يې نيمه رښتيا مالومات وړاندې کړي چي څېړونکي او لوستونکي بايد د کتاب ګټور او بې مانا مالومات سره بېل کړي او بايد متوجه وي چي نوموړي کتابونه د هغه ماتي دښمن په قلم ليکل شوي دي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ